AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

هاري واشنګټن 5 سپتمبر 2008م

# د احمد رشيد دنوي كتاب كره كتنه

د پاكستاني مشهور ليكوال، ژورناليسټ، او سياسي مبصر نوی كتاب "ګډوډۍ ته ور شوه کېډل" د كال ۲۰۰۸ د جون په مياشت كي په ٤٨٤ مخونو كي په متحده ايالاتو كي خپور سو. د ٥٩ كلن احمد رشيد له نامه او اثارو سره اكثره كتاب لوستونكي خلك اشنادي، او د هغه بل كتاب "طالبان" جهاني شهرت تر لاسه كړی او پرته له له پښتو څخه په ډېرو نورو ژبو ترجمه سوی هم دی. خو دلته به احمد رشيد د ژوند او كارنامو پر ځينو اړخونو باندي څه رڼا واچول سي او بيا به د كتاب د محتوا په باب څه مفصل بحث وسي.

احمد رشيد د ۱۹٦۰ په كلونو كي د كېمبرج پوهنتون څخه فارغ سو. هغه د خپل وخت د نورو ځوانانو په شان د ماركس، ماوو، او د لاتيني امريكا د مشهور چپي انقلابي، چي ګورا، د افكارو تر تاثير لاندي وو. په همدغو چپي نظرياتو سمبال احمد رشيد، د پاكستان د بلوچستان په غرونو او وچو بېدياوو كي د پاكستان د حكومت پر خلاف په روان بغاوت كي ور ګډ سو. احمد رشيد د بلوچستان په وچو او سختو شرايطو كي پوره لس كاله تېر كړل .

احمد رشيد د څو نورو همفكرو او همسنګرو انډيوالانو په مټ د بلوچستان په همدغو وچو بېدياوو كي د خود مختارۍ او د بزګرانو د حقوقو د اعاده كولو په غرض د پاكستاني پوځ سره وجنګېد. هغه يو ګوريلايي جنګيالی، سياسي ناظم،او د پاكستان د پوځ سرسخت مخالف وو، او پدي لسو كالو كي په راز راز ناروغيو لكه ملاريا او هېپاتسټس باندي اخته سو. احمد رشيد په همدغو كلونو كي خپل اكثره غاښونه له لاسه وركړل، او بالاخره يې خپله ماته ومنله او بېرته عادي ژوند او سياسي مبارزې ته يې مخه كړه .

خو همدغو تجربو، احمد رشيد ددې جوګه كړ چي د افغانستان، پاكستان، او مركزي اسيا د سياسي انكشافاتو يو دقيق، مدبر، او تېره سياسي مبصر سي. احمد رشيد د همدغې سيمي په باب څو داسي كتابونه ليكي دي چي نه يوازي په غرب كي د رفرينس او ماخذونو په ډول استفاده تري كيږي، بلكي د منطقي د څارونكو، ليكوالانو، او ژورناليسټانو لپاره هم نوي او تازه خبري لري. د احمد رشيد د "طالبان" په نامه كتاب ښايي د طالبانو په اړه كه تر ټولو ښه كتاب نه وي تر هيڅ كتاب كم هم ندی .

ښاغلی احمد رشيد له ډېرو زمانو راهيسي د افغانستان سياسي تحولات څاري. هغه په كال ۱۹۷۸ په كابل كي وو چي افغاني كمونستانو د افغانستان مشروع حكومت رانسكوره كړ او پرځای يې يو نامشروع، شډل، او ضد افغاني حكومت راوست. په كال ۱۹۷۹ كي، احمد رشيد په كندهار كي وو چي د شوروي اشغالګرو قواوو د كندهار ښار ونيو، او د افغانستان د بدمرغيو او تباهيو شپې او ورځې پيل سوې .

هغه لمړی ژورناليسټ وو چي په كال ۱۹۹٤ كي په كندهار كي د طالبانو له مشرانو سره وكتل. هغه وايي : زه ډېر ژر پوه سوم چي طالبان د پخوانيو مجاهدينو سره توپير لري .هغه زياتوي: "زه او د ،اې بي سي، يو عكاس كندهار ته ورسېدو. كله چي موږ غوښتل د طالبانو عكسونه واخلو، هغوی موږ لدې كاره منع كړو. د هغوی همدا اقدام زه هک پک كړم، ځكه ما مجاهدين له نژدو څخه پېژندل، هغوی په عكسونو او تبليغاتو پسي ځانونه وژل. زه هلته سمدستي پوه سوم چي طالبان له مجاهدينو سره توپير لري".

ښاغلی احمد رشيد د طالبانو سره په ډېرو پوځي عملياتو كي ملګری وو. دژورنالست په حيث په كال ۱۹۹٦ كي، هغه د طالبانو سره يو ځای كابل ته ننوت. هغه خپله عيني شاهد وو چي څرنګه د مسعود جنايتكاري ډلي د كابل ښار لوټ او تالا كړ، او بيا يې په تېښته د پنجشير په غرونو، تونلو، او سموڅو كي ځانونه د طالبانو له ډاره پټ كړل .احمد رشيد په همدغو كلونو كي د فار ايسټرن اكناميک رويو، انډيپنډنټ، او نورو اخبارو له لپاره د طالبانو او دافغانستان ناكراري وضع په باب مفصل رپوټونه ليكل.

كله چي بېنظير بوټو صدراعظمه وه، هغي له احمد رشيد څخه وغوښتل چي په افغانستان كي د پاكستان سفارت ومني. مګر هغه د سفارت پرځای د تحقيق او ژورناليزم لمن خوشي نه كړه او د مېرمن بوټو دغه بلنه يې رده كړه .

ښاغلی احمد رشيد له ډېرو غربي ژورناليستانو سره اشنايي لري. د هغوی لپاره لاربښونه کوي او د افغانستان او پاکستان په اړه هغوی ته معلومات او تماسونه برابروي. پدې تېرو کلونو کې، ښاغلی احمد رشيد غربي ډپلوماتانو ته هم د مشاور حيثيت غوره کړی دی. تېر کال، کله چي ښاغلي احمد رشيد دلته په واشنګټن کي د يو بل مشهور امريکايي ژورناليسټ، سټيف کول، سره به ګډه په يوه کانفرانس کي د افغانستان د رواني وضعي په باب خبري کولې. هغه وويل: "د جهاد په دوران کي، ما او سيف کول د سي ای اې او افغاني مجاهدنيو د ارتباط او وسلو د ورکولو په باب تحقيق کاوه. موږ په اسلام اباد کي په يوه مجلس کي برخه اخيستې وه. پدې محفل کي، د امريکا د وخت سفير، ښاغلي اوکلي، هم برخه اخېستې وه. ښاغلي احمد رشيد وويل : البته، همدا اوس پدې مجلس کي ښاغلي اوکلي موجود ناست دی. حاضرينو هم ټولو د ښاغلي اوکلي خوا ته وکتل. احمد رشيد وويل: کله چي په هغه مجلس کي ښاغلی اوکلي سټيف کول او زه دواړه يو ځای ولېدو. هغه وويل: " هغه دي دوه ډېر خطرناکه ژورناليستان." د واشنګټن دمجلس ټولو حاضرينو وخندل .

د احمد رشيد نوی کتاب "ګډوډۍ ته ور شوه کېدل" د معلوماتو له نظره خورا غني، موثر، او هر اړخېز کتاب دی. خو کله نا کله معلومات او جزييات دونه پکي ډېر سي چي لوستل يې ګران سي، او اصلي کيسه له لوستوکي څخه پاتي سي. د دې کتاب تيسيس يا اصلي موضوع داده: د بوش حکومت د افغانستان کار نېمکله پرېښود، او د عراق د اشغالو شوق يې وکړ. هغه پيسې او منابع چي بايد د افغانستان، پاکستان، او مرکزي اسيا د بياودانولو او ارامولو لپاره استعمال سوي وای، هغه په عراق کي حيف او ميل سوې. حال دا چي د ټروريزم پر خلاف د جنګ اصلي ميدان افغانستان، پاکستان، او مرکزي اسيا ده، نه عراق. احمد رشيد د خپل کتاب په مقدمه کي ليکي:"دا کتاب د امريکا دهغو ناکاميو په باب دی چي د سپټمبر د يوولسمي را وروسته يې و نه کړای سول چي دا سيمه ارامه کړي .امريکا پدې کي هم ناکامه سوه چي پدې سيمه کي داسي حکومتونه جوړ کړي چي د ټروريزم او اسلامي افراطيت څخه ميدان وګټي، او د دغي سيمي د راپرځېدو مخه ونيسي. د نړيوال بانک د يوه تخمين په حساب، په نړۍ کي همدا اوس قريب ٢٦ ملکونه سته چي کېدای سي ټروريزم ځيني صادر سي، حال دا چي د همدغو هيوادونو شمېر په کال ٢٠٠٣ فقط ١٧ ته رسيده ".

که څه هم، د ښاغلي احمد رشيد تيسيس څه نوې موضوع نده_ ددې ټکو ليکوال بار بار په خپلو مقالو او تبصرو کي پر همدې ټکي ټينګار کړی دی_ خو خبره يې پخه ده او حق همدا دی. د بوش ادارې پدې باب پوره او حيرانونکی حماقت وښود او يو ګټلی جنګ يې په يوې ښرګندي رسوايي او ماتي بدل کړ. عموما، د يوه مشر کمال دا وي چي يوه ماته په سوبې بدله کړي، خو د بې کمالۍ اوج دا دی چي يو مشر پخه کاميابي په ماتې بدله کړي. د بوش د ادارې کم عقلۍ ته بايد سړی توګه په غاښ ونيسي. زه يقين لرم چي تاريخ به د بوش او دهغه د نيوکان جګړه مارو انډيوالانو په باب ډېر سخت قضاوت وکړي. د بوش ادارې نه يوازي په افغانستان کي فرصت له لاسه ورکړی، بلکي د اسلامي نړۍ او امريکا تر مينځ يې موجوده اختلافات او نانذرې په دښمنۍ او مرګ ژوبلي بدلي کړې. د بوش ادارې د تمدنونو د تصادم او ټکر مفکورې ته ډېر زيات خدمت وکړ، او د ټروريزم پر خلاف مجادله يې د اسلام او مسلمانانو پر خلاف په جنګ بدله کړه. حال داچي ټروريزم او مذهبي افراطيت د مسلمانانو تر ټولو مهم او خطرناکه دښمن دی. دونه زيات مسلمانان چي مذهبي ټروريستانو وژلي دي، بل هيچا ندي قتل کړي. مسلمانان نه يوازي مذهبي ټروريستان او ډانګيان د خپل سر او مال دښمنان بولي، بلکي د خپل دين او ايمان اصلي تباه کاران يې هم ګڼي .

په هر صورت، احمد رشيد پخپل نوی کتاب کي ليکي چي د بوش حکومت د پاکستان د جمهوررييس پرويز مشرف سره ډېر نرم سلوک راخيستې دی. امريکايانو هيڅکله پاکستان ته په جدي توګه دا و نه ويل چي پاکستان بايد د طالبانو او مذهبي افراطيانو سره خپل روابط قطع کړي، او د ټروريزم پرخلاف د مجادلې يو رشتين او مطمين ملګري سي. جنرال مشرف به تل د القاعدې د يو څو قاتلانو په نيولو سره د بوش خوله ور خوږه کړه، او د اصلي خطر څخه_ چي د طالبانو او نورو افراطيانو لپاره د پاکستان پرله پسې ملاتړ وو _توجه بلي خواته واړوله. هغه ليکي: بوش بايد له مشرف څخه د طالبانو پوره تباه کول غوښتي وای. افغانان هم د پاکستان او امريکا څخه همدا غواړي. ښرګنده خبره دا ده چي پاکستان د ټروريزم او مذهبي افراطيت مرکز دی. تر څو پوري چي په پاکستان کي د ددغه ناسور چاره نه وي سوې، په افغانستان، هند، مرکزي اسيا، او حتی په نړۍ کي دسولي را وستل يو خوب او خيال دی .

هغه ليکي: د پاکستان پوځ او د هغه هيواد مقتدر استخبارات ای ايس ای طالبان د راتلونکې منطقوي سياليو په منظور د " ستراتيژيکي پانګي" په ډول ساتي او روزي. ځکه ای ايس ای باور لري چي يوه ورځ به امريکايان او نور خارجيان له افغانستان څخه خپلي قواووي باسي او هله به بيا هغوی له طالبانو څخه د ضربتي قوې په توګه کار اخلي .همدا سبب دی چي د پاکستان پوځ او استخبارات د پاکستاني طالبانو په ځپولو کي هم د زړه له کومي برخه نه اخلي. د پاکستان پوځ او مشرانو نه يوازي په سيمه کي دوه مخې پاليسي غوره کړې ده، بلکي د امريکايانو سره هم دوه مخې پاليسي راخيستې

ده. پاکستان له یوې خوا ځان د غرب ملګري بولي، او له بلې خوا دغرب، افغانستان، او هند له دښمنانو سره مرسته کوي. هغوی ته د سېب ځای برابروي او روزنه ورکوي. د پاکستان پوځ فکر کوي چې افغانستان او هند د پاکستان په تباهی پسې دي، نو بنا، د هغو د راایسارولو لپاره باید مذهبي ډلګیان وروزل سي.

د احمد رشید لیکنې هیڅکله د ای ایس ای پر طبعیت باندي ښه ندي لګېدلي. هغه پخپل دې کتاب کي د ای ایس ای پوره مذمت کوي . هغه وايي ای ایس ای د طالبانو، کشمیري افراطیانو، او د مذهبي ډلو ملاتړ کوي. هغه ای ایس ای په دوه مخي پالیسی تورونوي .هغه لیکي چي ای ایس ای دیموکراسي سبوتاژوي، د طالبانو سره مرسته کوي، او یوه داسي تباه کونکي خارجي پالیسي تعقیبوي چي د هند او افغانستان څخه پر ډار او ببري را څرخي. د هند څخه همدا ببره ده چي ای ایس ای یې د ذره وي وسلو جوړولو او خورولو ته هڅولی دی. هغه وايي چي د څو کالو راهیسي د مذهبي افراطیانو او ای ایس ای تر مینځ روابط خراب سوی دی، او ای ایس ای نور پر همدغو تباه کارانو باندي پوره کنټرول نلري. همدا سبب دی چي پاکستان خپله د ټروریستي حملو ښکار ګرځېدلی‌دی. (کوهي مه کینده د بل سړي په لاره ___ چیري ستا به د کوهي په غاړه لار سي(

احمد رشید پخپل کتاب ـ ګډوډۍ ته ور شوه کېدل- کي په افغانستان کي د بوش د اداري پر پالیسیو باندي هم سخت انتقاد کوي. هغه وايي: د بوش اداري د عراق د نیولو په مقصد د افغانستان کارونه نیمکله پرېښودل. څرنګه چي د عراق اشغالول د بوش د اداري لپاره ډېر زیات اهمیت لرل، همدا وجه وه چي امریکا په افغانستان کي د بدنامو افغاني جنګسالارانو سره مرسته پیل کړه، څو همدغه ډلي دننه په افغانستان کي امنیت وساتي او امریکایي عسکر د عراق د نیولو لپاره خلاص سي. افغاني جنګسالارانو د سي اي ای د بېشماره پیسیو او وسلو په زور خپل قدرت او نفوذ خور کړ، د ځانونو لپاره یې بنګلي ودرولي، حال دا چي افغانان د پخوا په شان د فقر، بي امنی، ډار، او د جنګسالارانو له ظلم او وحشت
سر ه مخامخ دي. احمد رشید په افغانستان کي د نارکو ټروریستانو او د شمال د ایتلاف په تقویه کولو کي د امریکا د دفاع وزارت بي خبره او مغروره افسران او د سي اي ای ناا‌هله او مغرض جاسوسان ملامتوي. هغه وايي په افغانستان کي د امریکا پالیسی خارجه وزارت نه بلکي د دفاع د وزارت سرټمبه او سطحي افسران ټاکی. هغوی د شمال ایتلاف مشهور جنایتکارانو او د نورو سیمو محلي جګړه مارانو ته پیسي او وسلي ورکوي. امریکایي عسکر په همدغو بدنامو خلکو ځانونه ساتي .د همدغو ډلګیانو څخه د ضربتي قوې په توګه کار اخلی. افغانان همدا ویني، او ورځ په ورځ د امریکا د پالیسیو په ارتباط بدبینه کېږي. افغانان د امریکا د صداقت او ښه نیت په باب شکمن دي.

د امریکا بله اشتباه دا وه چي ډېر وختی یې کامیابي اعلان کړه. حال دا چي طالبان لا نوه ختم سوي، هغوی د پاکستان په سرحدي ښارونو او ښارګوټو کي ټېده خوبونه کول .القاعده په پاکستان کي خپل پرهارونه تداوي کول، او د راتلونکي لپاره یې تیاری نیوی .

د احمد رشید د کتاب له عنوان څخه_ ګډوډۍ ته ور شوه کېدل_ معلومېږي چي هغه د اوسني اوضاع په باب سخت اندېښمن دی. هغه پدې کتاب کي د هغو هیلو شنډېدل بیانوي چي د طالبانو دحکومت له نسکورېدو سره سم راسپړېدلي وې. هغه لیکي: په سیمه کي خلکو فکر کاوه چي ښايي امریکا د خپلو تېرو اشتباهاتو څخه عبرت اخیستی وي. ښايي ددي وروسته امریکا د جنګسالارانو، او مذهبي افراطیانو پر ځای با احساسه، ښه، او دیموکرات اشخاص او ډلي تقویه او ملاتړ کړي، خو وروسته له اوو کالو څخه دا معلومه سوه چي د بوش اداري هغه پخوانی تباه کونکي پالیسي بیا غوره کړې ده. احمد رشید بوش، د متحده ایالاتو پخوانی د دفاع وزیر، رمز فیلډ، او ډیک چیني د جنګسالارانو په جمله کي حسابوي.

د هغه په کتاب کي اکثره واقعیتونه، معلومات او خبري نوي ندي، خو د هغه ځیني تحلیلونه او اندېښني د غور وړ دي. په افغانستان او پاکستان کي د اوضاع خرابېدل هر دقیق او حساس بني ادم د اندېښنو او تشویش سره مخامخ کوي. ګډوډۍ ته ور شوه کېدل دونه معلومات او ا طلاعات راغونډ کړي دي چي د راتلونکو محقیقینو لپاره یې کار ډېر اسانه کړی دی .

په پای کي، د احمد رشید د کتاب یوه مهمه اشتباه دا ده چي که څه هم هغه کرزی یو کمزوری او ډارن مشر بولي، خو څرنګه چي پکار ده د کرزي کمزوری نه بیانوي. ښايي ددي وجه دا وی چي احمد رشید او کرزي ډېر پخواني انډیوالان دي. احمد رشید پدې ښه پوهېږي چي کرزی پدې سختو شرایطو کي د افغانستان د مشری جوګه ندی. مګراحمد رشید

ددغو ټولو واقعیتونو سره سره بیا هم پر کرزي باندي هغسي چي شایداو باید ده انتقاد نه کوي، د احمد رشید همدا قضاوت، دریځ، او تحلیل څه شکونه را پورته کوي. والسلام .